**A** برخه: د غوا پالنې د مدیریت پژندګلو
دوهم لوست: د شیدو(لبنیاتو) د صنعت پیژندنه

**د زده کونکو د زده کړې موخې او هدفونه:** زده کونکي به د دې لوست په پایله کې له لاندې موخو یا هدفونو سره اشنا شي:
١ د ګلې یا رمې د اصلاح لپاره د شیدو ورکونکو غواګانو انتخاب یا ټاکنه
٢ د لبنیاتو لپاره د مارکیټینګ(بازارموندنې) د امکاناتو روښانه کول
٣ د شیدو ورکونکو غواګانو د اوو عمده نسلونو پیژندګلو کومې چې د شیدو لپاره استفاده ورڅخه کیږي.

**د لوست د تدریس لپاره وړاندیز شوي وخت:** ١ ساعت

وړاندیز شوي منابع یا زیرمې: لاندې منابع یا زیرمې کیدلی شي چې په دې لوست کې ګټوري واقع شي. د درسي پلان د غوره مخکې ورلو لپاره نوموړي پلان په پاورپواینټ کې هم تهیه شوي دي.


Ensminger, M.E., *The Stockman's Handbook*. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 1992.

Lee, Jasper S., *Introduction to Livestock and Companion Animals 2nd Edition*. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 2000.


Internet keywords: dairy, Holstein, dairy judging, milk production, dairy farm, and Dairy Herd Improvement.

د سامانونو، وسایلو، لوازمو او اساسنتیاوو فهرست یا لیک لړ

- **د لیکلو لپاره سپینه یا تشه ورقه یا صفحه**
- **د پاورپواینټ لپاره پراجکتور(غټ ښودونکی)**
- **د پآورپوآینټ سلایدونه یا صفحې**
- **روښانه سلایدونه**
- **د زده کونکو د کاري ورقو کاپي ګاني**

**اصطلاح ګاني :** لاندې اصطلاح ګاني په دې لوست کې وړاندې کیږي.( نوموړي

اصطلاح ګاني د پاورپواینټ پروګرام په ۲ شمیره سلاید کي په ایټالیک شکل سره ښودل شوي دي):

- Artificial insemination ( AI) مصنوعي القاح
- Beef غوښيني غواوي
- Butterfat کوچ یا غوړي
- Cattle by-products د غواګانو فرعي محصولات
- Crossbreeding نسلګیری
- Culling خشره کول
- Dairy Herd Improvement ( DHI ) د شیدو غواګاو د رمې یا ګلې اصلاح کول
- Out crossing د غیر سوچه نسل نسلګیري
- Pure breeding د سوچه یا خالص نسل نسلګیري
- Veal د هغه خوسکی غوښه چي له دري کالو څخه لږ عمر ولري

**شیوه دلچسپ:** له یوې په زړه پورې تګلارې څخه ګټه پورته تکړئ ترڅو چي زده کونکي د لوست د زده کړي لپاره اماده کړي. ښوونکی اکثره د خپلو ځانګړو ټولګیو لپاره د زده کونکو د شرایطو سره سم تګلاري تهیه او برابروي یا ترتیبوي. لاندې تګلاره کیدلی شي چي د یوې ممکنه تګلاري په ډول سره ورڅخه یادونه وکړل شي: د ګلې د اصلاح په برخه کي له زده کونکو سره خبري اتري پیل کړئ. هغوي د غوښینو غواګانو په برخه کي څومره پوهیږي؟ د شیدو ورکونکو غواګانو تولیدونکي په څه ډول سره خپله ګله یا رمه اصلاح کوي؟ لومړی موخې یا هدف ته پاملرنه وکړئ.

## درسي محتویات یا منځ پانګي او دلوست ستراتیژي ګاني

لومړی موخه یا هدف: د ګلې یا رمې د اصلاح د هڅونې لپاره د غواګانو د ټاکنو په برخه کي خبري اتري وکړئ.

آټکل شوې ستونزه یا مشکل: زه د خپلې ګلې یا رمې د اصلاح لپاره څه ډول غواګاني انتخاب کړم؟

**( د پاورپواینټ ۳ شمیره سلاید)**

۱. د دې لپاره چي د ګلې یا رمې د اصلاح کولو لپاره د خپلي خوښي او ناخوښي ځانګړتیاوو پیژندلو توان ولرو تاسې باید چي د ګلې یا رمې د اصلاح لپاره په پرلپسي توګه د نسګیری له تخنیکونو څخه کار واخلئ داسې چي د تنظیم شوو معیارونو د حالتونو په پام کي نیولو سره ځاروي خشره او یا هم له ګلې یا رمې نه جلا کړئ. د ګلې یا رمې د اصلاح لپاره مختلف احتمالات کیدلی شي چي په نظر کي ونیول شي

**( د پاورپواینټ ٤ شمیره سلاید)**

A . د نسلګیرۍ په پروګرام کي دي په دقیقه توګه ریکارډ ونیول شي. د خوراکې مصرف او د شیدو تولید له تاسې د ګلې یا رمې په برخه کي مرسته کولی شي. د ریکارډ مقایسه یا پرتله کول له نورو ګلو یا رمو سره هم کیدلی شي چي د شیدو تولیدونکو سره د هغې د اصلاح په برخه کي مرسته وکړي.
**( د پاورپواینټ ٥ شمیره سلاید)**

B . خشره کردن و دور کردن دایمی حیوانات گله شما یک طروق موثر در کاروبار شما برای مفیدیت حیوانات میباشد . بعضی از چیزهای عمده که پیش از خشره کردن در نظر گرفته شده میشود عبارت اند از تولید شیر ، تاریخچه تولید مثل، عمر حیوان، مشکلات مضمن صحی ،سلوک حیوان زیراکه بعضی از انها لگد میزند و خطرناک هستند د ګلې یا رمې څخه په دایمي توګه د حیواناتو خشره کول یا لري کول ستاسې لپاره .
**( د پاورپواینټ ٦ شمیره سلاید)**

طبیعي القاح لپاره د سخوندر استعمال په عوض مصنوعي القاح کول یو بل احتمال دی چي باید په نظر کي ونیول شي. Artificial insemination ( AI) یا مصنوعي القاح له یوي جلا لاري نه عبارت ده چي په هغې کي سپرم له تخمې سره په اړیکه کي کیږي. هر کله چي مصنوعي القاح نه کار اخستل کیږي په هغې کي کیدلی شي چي له سل ګونو نورو ورکونکو ( donor ) څخه سپرم sperm انتخاب کړل شي. تاسې کولی شۍ چي له مونث اولاد سره یو پلار مشاهده کړي او په هغې کي دا تعین کړئ چي کومي ځانګړتیاوي په کي شتون لري چي د ګلې په اصلاح کي ښايي موثر واقع شي. د مصنوعي یو له زیانونو څخه د غویمي غوا کلک نیول دي او د هغې وړ د القاح لپاره ستونزمن او ډیر وخت ته اړتیا لري. د سخوندر ساتل ستاسې جنتیکي اندازه محدودوي ولاکن د وخت له ضایع کیدو نه مخنیوی کوي ځکه چي په ګله یا رمه کي د سخوندر خوشي کول تاسو د غویمتوب په تشخیص کي مرسته کوي .
**( د پاورپواینټ ٧ شمیره سلاید)**

D . pure breeding د حیواناتو د ګلې یا رمې د اصلاح لپاره د خالصو یا سوچه نسلونو پواسطه نسلګیري pure breeding کول یوه بله لاره ده. د خالصو نسلونو نسلګیري کول عبارت دي د یوه خالص نسل یوځای کول له بل خالص نسل سره. د خالصو نسلونو د نسلګیرۍ پواسطه تاسې کولی شۍ چي خپله ګله یا

رمه د نیکونو (ښځینه او نارینه) د شجري په یادښت کولو سره اصلاح کړي. که چیري تاسې د خالص نسل د نسلګیرۍ دا سیستم په کار وړئ نو باید چي له جنیتک سره بلدتیا ولرئ ترڅو چي تاسې د اولاد نسل په اصلاح کي له غوره والدینو څخه استفاده وکړئ.
**( د پاورپوابنټ ۸ شمیره سلاید)**

Out crossing . E: د غیر خالص نسل نسلګیري ده چي دا هم د نسلګیرۍ لپاره یوه بله ګټوره لاره ده. اوټ کراسنګ د هغو دوه نارینه او ښځینه څارویو له یوځایوالی نه عبارت دي کوم چي له عین نسل څخه نه وي. دا یوه اسانه لاره ده ترڅو چي له تاسې سره د هغه نسل په دوه رګه کولو کي مرسته وکړي کوم چي تاسې Out crossing کړي دي .
**( د پاورپوابنټ ۹ شمیره سلاید)**

Cross breeding . E یا د مختلفو نسلونو له نسلګیرۍ نه عبارت ده چي د غواوو یو نسل له بل پیژندل شوی او مشهور نسل سره یوځای کیږي د بیلګي په توګه د هولسټین (Holstein) یوځای کول له جرسي (Jersey) سره. کراس بریډینګ ډیري زیاتي ګټي لري لکه لوړ تولید او د ناروغیو په وړاندې مقاومت لرل. د دې کار زیانونه دا دي چي نه شي کیدلی څاروی راجستر شي ځکه چي هغه خالص نسل نه وي او همدارنګه دا ستونزمنه ده چي دا وړاندیز وشي چي د هغې اولاد به څرنګه وي.
د احتمالاتو Options په برخه کي د ګلې یا رمي د اصلاح په برخه کي له TM ۱-۲ څخه کار واخلئ.
دوهمه موخه یا هدف: د لبنیاتو د مارکیټ احتمالات تشریح او روښانه کړئ.
آټکل شوي ستونزه یا مشکل:د شیدو ورکونکو غواګانو د مارکیټ لپاره څني احتمالات کوم دي؟

۱۱ : سره له دي چي شیدي ورکونکي غواګاني د شیدو د تولید له پلوه ښه پیژندل شوي دي ولي د شیدو په محصولاتو کي یو څو اضافي مواد نور هم شتون لري چي له هغې څخه د شیدو غواګانو د فارم نه د ګټي اخستنې لپاره استفاده کیږي.
**( د پاورپوابنټ ۱۰ شمیره سلاید)**

A : د دي لپاره چي شيدي د مختلفو محصولاتو په توګه تر استفادې لاندې نيول کيږي. که چيري تاسې خوراکه يا غذا مقايسه کړئ نو شيدي يو له هغو خوراکو نه دي چي په مارکيټ کي ډير قيمته نه دي شيدي د خوسکې له لومړی توليد نه وروسته په لاس راځي. غوا د شيدو د توليد ته دوام ورکوي که چيري تاسې هغه په ټاکلی وخت سره ولوشی او د هغې لپاره متوازنه خوراکه ورکړئ هر کله چي غوا شيدي کمي کړي نو بايد چي د بيا ځل لپاره نسلګيري شي ترڅو چي بيا بچی وزيږوي او ډيري شيدي توليد کړي ځني له توليدونکو څخه د شيدو د زيات توليد لپاره د Bovine growth hormone ( B G H ) هورمون څخه استفاده کوي .

**( د پاورپواينټ ۱۱ شميره سلايد)**

B : Veal: د ځوان خوسکی له غوښي نه عبارت ده چي هغه په ګله يا رمه کي د نورو حيواناتو د ځآي نيونکی په توګه تر استفادې لاندې نه نيول کيږي. د Veal خوسکو ته بايد ځانګړی خوراکه ورکول شي ترڅو چي د غوښي رنګ يي په ګلابي روښانه رنګ سره وساتل شي. د Veal څآروي اکثره له دري مياشتو څخه لږ عمر لري او يوازې ورته شيدي د خوراکي په توګه ورکول کيږي.

**( د پاورپواينټ ۱۲ شميره سلايد)**

C Beef ( بيف ) : د غوا له غوښې نه عبارت ده. هرکله چي يو حيوان په نسبي توګه ډير عمر ولري، د مثل توليد او توليد ستونزي ولري، نور نو ګټور نه دي او بايد چي حلال ځای ته وليږدول شي او له هغې نه غوښه په لاس راوړل شي که چير ذکر شوی اولاد د نسلګيری د پروګرام لپاره نه ساتل کيږي نو له هغې څخه هم د غوښي په توګه کار اخستل کيږي البته هغوي تر يو مودې پوري تغذيه کيږي او له هغې نه وروسته د غوښي او نورو محصولاتو په منظور لکه پوستکی، سوم، او نورو غړو لپاره حلال ځای ته ليږي .

**( د پاورپواينټ ۱۳ شميره سلايد)**

D : Cattle by product د غواګانو فرعي محصولات: دا محصولات د غوا له مختلفو برخو نه جوړيږي لکه جسد، غوږي، هډوکي، غدي، کولمي، مغز، زړه او ځني نور ځايونه. له ځنيو محصولاتو څخه کيدلی شي چي د پيشوګانو او سپيانو لپاره خوراکه جوړه شي. ځني د درمل جوړولو لپاره، شيريني بابو لپاره او د

Cosmetics (فیشیني موادو لکه د شونډو د سرو کونکی) په حیث او همدارنګه د فرنیچر او کالو په توګه تر استفادې لاندې نیول کیږي.

**د شیدو ورکونکو غواګانو د فارم پواسطه د پیسو جوړولو د احتمالاتو په برخه کي د خبرو اترو لپاره له TM ۲-۲ څخه استفاده وکړئ د غواګانو د فرعي محصولاتو د تحقیق لپاره له WS ۱-۲ څخه استفاده وکړئ.**

دریمه موخه یا هدف: د شیدو ورکونکو غواګانو د او عمده نسلونو پیژندګلو کوم چي د شیدو د تولید لپاره استعمالیږي.
آټکل شوې ستونزه یا مشکل: کوم نسلونه د شیدو د تولید لپاره استعمالیږي؟

**( د پاورپواینټ ۱۵ شمیره سلاید)**

A .د هولسټین (Holstein ) غواګاني د شیدو له ډیرو مشهورو غواګانو څخه شمیرل کیږي د هلسټین کلمه Holstein په لنډه توګه Holstein-Frisan ده او د لومړی ځل لپاره په نیوزلنډ کي رامنځته شوې ده دا د تورو او سپینو رنګونو لرونکي دي او لویه جثه لري. د ښځینه جنس وزن یي ٦٧٥ کیلوګرامو ته ولي د سخوندر او یا هم نارینه جنس وزن یي تر ۱۰۰۰ کیلوګرامو پوري رسیږي د هولسټین د لوی نسل ګڼه دا ده چي د ذکر شوې غوا شیدې په منځنی توګه ډیر زیاتي نسبت نورو نسلونو ته. د دي نسل د شیدو د پروتین او غوړو اندازه کمه وي کوچ یي د شیدو غوړیو له ساده شکل نه عبارت دي.

**( د پاورپواینټ ١٦ شمیره سلاید)**

B . هغه هولسټین چي سپین او سور رنګ لري له هغه هولسټین نه چي تور او سپین رنګ لري تکامل یي کړي دي او ټول صفتونه یي په غیر د رنګونو له توپیر نه سره ورته دي. دا ټول د لوي جوثي حیوانات دي، زیاتي شیدي ورکوي ولي د پروتین او کوچو اندازه یي نسبت نورو نسلونو ته کمه وي.

**( د پاورپواینټ ۱۷ شمیره سلاید)**

C . د ایر شایر(Ayrshire) غواګاني له سکاټلنډ نه سرچینه اخستی ده رنګ یي له روښانه نه تور سور یا ګیلاسي ته ورته، نصواري او سپین له نورو رنګونو سره ترکیب شوي وي. ځني نوعي یي پرته له ښکرو څخه دي. دوي د دې لپاره چي ساق او

پښـي يي قوي  دي نو د ځږ کولو ښـه توان لري او د قوي او غوره غولانځې لرونکي دي چي له همدې کبله مشـهور دي.
**( د پاورپواينټ ۱۸ شميره سلايد)**

D . د برون سـويس (Brown Swiss ) شـيدې ورکونکي غواګانو د سـويزرلينډ له الس نه ريښـه اخسـتې ده دوي يواځي له هولسـټين په نسـبت پروتين او غوړو ښـه توليد لرونکي دي او د بشـپړ نصواري (brown) رنګ ، له ډير روښـانه نه تياره نصواري رنګ لرونکي دي. دواړه پوزه او ژبه يي تور دي او اوربوز يي د روښـانه رنګ لرونکي دی.
**( د پاورپواينټ ۱۹ شميره سلايد)**

E .  د ګرنسـي (Guernsey)غواګانو له ګرنسـي جزيري نه منشـا اخسـتې ده رنګ يي نصواري يوځآی له سـپين سـره او ټاکلی روښـانه وي. د دي نسـل خوسـکي نسـبت د نورو نسـلونو خوسـکو ته د جسـامت له مخې واړه دي. دوي د شـيدو په رنګ کي شـهرت لري له دي کبله چي د هغوي شـيدي نسـبت نورو نسـلونو ته طلايي رنګ لري. د دي نسـلونو شـهرت مخ په کمدو دی سـره له دي چي د وړوکی جسـم لرونکي دي، حيوان ارام دی او کار کول ورسـره اسـان هم دی.
**( د پاورپواينټ ۲۰ شميره سلايد)**

F . د جرسـي( Jersey ) غواو له جرسـي جزيري څخه منشـا اختسـې ده دوي د رنګونو له پلوه د مختلفو رنګونو لرونکي دي ولي په نصواري، سـپين ته نژدې، خاورين، سـپينو خالونو او پرته له خالونو څخه وي. دا نسـل د کيفيت له مخې ښـه او محکمه غولانځه لري چي له همدې کبله مشـهور دی. سـره له دې چي د شـيدو اندازه يي نسـبت نورو نسـلونو ته کمه ده ولي د کوچو Butterfat اندازه يي نسـبت نورو نسـلونو ته زياته ده. د دي نسـلونو شـهرت په دي وروسـتيو کلونو کي زيات شـوی دی
**( د پاورپواينټ ۲۱ شميره سلايد)**

G . د شـارټ هارن( Shorthorn)  شـيدو غواوي يا هغه غواوي چي لنډ ښـکرونه لري له انګلينډ نه يي منشـا اخسـتی ده او د

تور او سپین مخلوط رنګ لرونکی دی یوازې سور او یا یوازې سپین هم وي دا نسلونه له هر نوعه شرایطو سره ښه توافق کوي او د شیدو تولید یي نسبت د غوښـي تولید ته زیات تر استفادې لاندې نیول کیږي. **د شیدو غواګانو د مختلفو نسلونو په برخه کي له TM ۲-۳ څخه استفاده وکړئ .**

**بیا کتنه / خلاصه(لنډیز):د دې لوست خلاصه یا لنډیز د زده کونکو**

**د زده کړو موخو یا هدفونو په برخه کي متمرکز کړئ.**

**او له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چي د لوست مندرجات چي له**

**کومو موخو یا هدفونو سره اړیکه لري توضیح او روښانه کړئ.**

**عملي کار :** عملي کار کیدلی شي چي لاندې لابراتواري ورقي په هغې کي شاملي کړل شي. WS ۱-۲ د غواګانو د فرعي محصولاتو په برخه کي تحقیق

**ارزیابی :** ارزیابی باید د زده کونکو په کامیابی باندې د لوست د موخو یا هدفونو په برخه کي متمرکزه شي له مختلفو میتودونو څخه استفاده وکړي لکه د ځارویو د تناسلي سیستم د اناتومي او فزیالوژي په رابطه د زده کونکو زده کړه په لیکلی بڼه یو امتحان له دي سند سره پیوسته وړاندې کیږي.

**د نمونه یي امتحان لپاره ځوابونه :**

**مقایسه (پرتله کول)**

| | |
|---|---|
| ۱ | C |
| ۲ | D |
| ۳ | B |
| ٤ | A |

خالیگاه یا تشه ډکه کړئ

۱ Artificial Insemination مصنوعی القاح

| | | |
|---|---|---|
| ٢ | Butter fat | قيماق يا كوچ |
| ٣ | Cattle by product | فرعی محصولات |
| ٤ | Cross breeding | د مختلفو نسلونو نسلګيري كول |
| ٥ | Beef | د غوا غوښنه |

لنډ ځوابونه:
د لويو هولسټين غواګانو ګټه دا ده چي نسبت نورو نسلونو غواو ته ډير شيدي توليدوي. د دي نسل تاوان يا زيان په دي كي دی چي د هغوي شيدي د نورو نسلونو د شيدو په وړاندې كم پروتين او كم كوچ لري. د براون سويس غوا ګاني په خپلو شيدو كي د زياتو غوړيو او پروتين لرونكي دي او ارام طبيعت لري. د جرسي Guernsey غواګاني نسبت نورو غواګانو ته وړو خوسكيو لرونكي دي. دوي د دوي د شيدو د رنګ له پلوه مشهور دي چي د هغوي شيدي نسبت نورو نسلونو ته ډير زيات طلايي رنګ لري.

نمونه يي امتحان(ازموينه)

## د شيدو وركونكو غواګانو د صنعت پيژندګلو

نوم .....................

**مقايسه(پرتله كول): هر لغت ته د هغې له درست تعريف سره اړيكه وركړئ.**

A Pure breeding **(خالص نسل نسلګيری)** C Out breeding (د هغو نسلونو نسلګيري چي سره اړيكي نه لري)
B Veal **د هغه خوسكې غوښه چي له دريو مياشتو نه كم عمر ولري**
D Reproductive system (مثل توليد سستم)

١ . .... هر كله چي غوا له غوايي سره نژديوالی ونه لري او جفتګيري شي
٢ ......  له هغه سيستم نه عبارت دی چي په هغې كي غواګاني په طبيعي شكل سره د مثل توليد كړی وي او نسبت مصنوعي القاح ته توپير كوي.

۳ ...... د ځوان خوسکی غوښه چي په ګله کي د نورو حیواناتو د ځآی نیونکی په توګه نه استعمالیږي.
٤ ........هر کله چي تاسې د خالص نسل څاروی له یوه خالص نسل سره جفتګیری کوی .

**خالیګاه یا تشه ډکه کړئ:لاندې جملې ډکي یا بشپړي کړئ**

١ . د هغه میتود استعمالول چي په طبیعي شکل سره نه وي او په هغې کي سپرم sperm له تخمې سره په تماس کي وي د ............................. په نوم سره یادیږي.
٢. په شیدو کي شتون لرونکي منځ پانګي تړلي دي په لکه ...........................
٣. ...................له هغو محصولاتو نه عبارت دي چي د غواګانو له مختلفو برخونو نه جوړ شوي وي او د ډیرو عامو موادو د جوړولو لپاره استعمالیږي .
٤.............. د غوا د یوه نسل جفتګیري کول له یوه پیژندل شوي نسل سره ولي چي نسل یي مختلف وي.
٥. هغه غوښه چي له غوا څخه په لاس راځي د ___________ په نوم سره یادیږي.

لنډ ځوابونه: لاندې سوالونو ته ځوابونه ورکړئ.
د برون سویس، هولسټین او ګرنسي غواګانو کي پرتله وکړئ

TM:2-1
**د ګلې یا رمې د اصلاح د هڅونې لپاره د غواګانو انتخاب یا ټاکنه**

- DHI د ریکارډ اخستلو او امتحان کولو لپاره د یوه پروګرام نه عبارت دی چي د هغې له مخې ګله یا رمه امتحان او له نورو ګلو یا رمو سره پرتله کیږي.
- له ګلې یا رمې څخه په دایمي توګه د حیواناتو لري کول یو له هغو لارو څخه ده چي د حیواناتو د کاروبار د ګټورتوب لپاره حیوانات خشره او یا هم لري کیږي
- د طبیعي نسلګیری لپاره له سخوندر نه استفاده کول یا هم مصنوعي القاح یو بل امکان دی.
- د یوه خالص نسل یوځای کول له یوه خالص نسل سره د خالصي نسلګیری نه عبارت ده.

- اوټ کراسنګ د هغه نارینه او ښځینه له یوځای کولو نه عبارت دي چي نژدیکت ونه لري ولي له عین نسل څخه وي.
- کراس بریدنګ د یوه نسل غوا یوځای کول له یوه مختلف پیژندل شوي نسل سره دي.

TM ۲-۲

**د مارکیټي محصولاتو نموني کومي چي د دغواګانو له شیدو څخه په لاس راځي**

- **د سپي او پیشو خوراکه Cat and dog food**
- **درمل Medicines**
- **میوه جات Marshmallows**
- **فیشني شیان لکه لب شیرین Cesmetics**
- **میز او چوکۍ Furnitures**
- **لباس یا کالي Clothing**
- **د غوا غوښه Beef**
- **شیدې milk**
- **د شیدوې محصولات products**
- **ځوان خوسکی غوښه Veal**

TM ۲-۳

- **Holstein** **( هولسټین)**
- **Red and White Holstein ( سور او سپین رنګه هولسټین)**
- **Ayrshire ( ایر شایر)**
- **Brown Swiss ( برون سویس )**
- **Guernsey ( ګرنسی )**
- **Jersey ( جرسی )**
- **Milking Shorthorn ( شیدئي لنډ ښکر لرونکي )**

WS: 2-1

د غواګانو د فرعي محصولاتو تحقيق

هدايات(لارښووني):

۲۵ نوعه د غواګانو فرعي محصولات او د حيواناتو برخي کومي چي له حيوان څخه اخستل شوي دي لست کړئ
د حيوان مربوطه برخي يا قسمتونه
د غوا فرعي محصولات

1. ____________________________________________
____________

2. ____________________________________________

______________

3. ____________________________________________

______________

4. ____________________________________________

______________

5. ____________________________________________

______________

6. ____________________________________________

______________

7. ____________________________________________

______________

8. ____________________________________________

______________

9. ____________________________________________

______________

10. ___________________________________________

______________

11. ___________________________________________

______________

12. ___________________________________________

______________

13. ___________________________________________

______________

14. ___________________________________________

______________

15. ___________________________________________

______________

16. ___________________________________________

______________

17. ______________________________________________________
_______________

18. ______________________________________________________
_______________

19. ______________________________________________________
_______________

20. ______________________________________________________
_______________

21. ______________________________________________________
_______________

22. ______________________________________________________
_______________

23. ______________________________________________________
_______________

24. ______________________________________________________
_______________

---